الأموال الضائعة وهي كل مال وجدولم يمكن معرفة صاحبه من لقطة اووديعة اودهن ومنه مايوجدمع للنصوص ونحوهم ممالاطالب له فيوردالى بيت المال.

که د يو چاحق په بیت المال کښې وي خو د بیت المال مسئول يې نه ور کوي؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

که د يو چاحق په بیت المال کښــې وي خو د بیت المال مســئول يې نه ور کوي ايا د ته داجواز ســته چې دى کله پر بیت المال باندي لاس برى ســي خپل حق په خپله د بیت المال څخه وا خلي ؟ بينوا تؤجروا !

المستفتي:مولوي خير محمد صاحب تاريخ: ۷/ ربيع الثاني/ ۱۴۴۲هق

(الجــــواب باســم ملهــم الصــواب)

حامداً ومصلياً وبعد : په مذ کوره صـورت کښــې دغه کس ته داجواز لري چې خپل حق په خپله د بیت المال څخه واخلي .

(۱)لماقال العلامة زين الدين بن إبراهيم المعروف بابن نجيم (المتوفى: ۹۷۰هـ)

في القنية عن الوبري أن من له حظ في بيت المال ظفر بماله وجه لبيت المال فله أن يأخذه ديانة ونظمه ابن وهبان في منظومته.

البحر الرائق شرح كنز الدقائق:٣/ ٢٣٠) [باب نكاح الكافر]

(٢)لماقال العلامة علاء الدين الحصكفي الحنفي (المتوفى: ١٠٨٨هـ)

ومن له حظ في بيت المال وظفر بما هو موجه له له أخذه ديانة.

(٣)ولماقال العلامة محمد أمين بن عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ١٢٥٢هـ)

(قوله: ومن له الحظ) أي نصيب في بيت المال في أي بيت من البيوت الأربعة الآتية مع بيان مستحقيها في النظم ط.

قلت: وهذه المسئله ذكرها المصنف متنا في مسائل شتى اخر الكتاب، ونظمها ابن وهبان في منظومته وقال ابن الشحنة في شرحها ومن له الحظ هم القضاة والعمال والعلماء والمقاتلة وذراريهم والقدر الذي يجوز لهم أخذه كفايتهم قال المصنف: وكذلك طالب العلم والواعظ الذي يعظ الناس بالحق والذي يعلمهم. اهـ.

قلت: لكن هؤلاء لهم الحظ في أحد بيوت المال وهو بيت الخراج والجزية كما يأتي قريبا وظاهر كلامه أن لأحدهم الأخذ من أي شيء وجده، وإن لم يكن من مال البيت المعد لهم وهو خلاف الظاهر من كلامهم وإلا لم تبق فائدة لجعل البيوت أربعة، نعم يأتي أنه للامام أن يستقرض من أحد البيوت ليصرفه للاخر ثم يرد ما استقرض فإنه يقتضي جواز الدفع من بيت اخر للضرورة ففي مسألتنا إن كان يمكنه الوصول إلى حقه ليس له الأخذ من غير بيته الذي يستحق هو منه وإلا كما في زماننا يجوز للضرورة إذ لو لم يجز أخذه إلا من بيته لزم أن لا يبقى حق لأحد في زماننا لعدم إفراز كل بيت على حدة بل يخلطون المال كله ولو لم يأخذ ما ظفر به لا يمكنه الوصول إلى شيء فليتأمل (قوله بما هو موجه له) أي بشيء

يتوجه لبيت المال أي يستحق له والذي في شرح الوهبانية عن القنية عن الامام لو بري من له حظ في بيت المال ظفر بمال وجه لبيت المال فله أن يأخذه ديانة وللإمام الخيار في المنع والإعطاء في الحكم أي في القضاء. اهـ. قلت: أي في الخيار في إعطاء ذلك للواجد إذا علم به ليعطيه حقه من غيره إذ ليس له الخيار في منع حقه من بيت المال مطلقا كما لا يخفى.

رد المحتار على الدر المختار: ۲/ ۶۱) باب العشر ط:رشيدية

(۴)لمافي الفتاوى الهندية : ۱/ ۱۹۱)قبيل [الباب الثامن في صدقة الفطر] ط:رشيدية

ومن لـه حظ في بيـت المـال ظفر بما هو وجه لبيت المال فله أن يأخذه ديانة وللإمام الخيار في المنع والإعطاء في الحكم كذا في القنية.

باب التعزير :

(بسم الله الرّحمن الرّحيم)

كه يو څوک له بهيمې سره وطې وکړي؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب !

كه يو څوک له بهيمې سره وطې وکړي څه حکم لري؟ **بينوا تؤجروا !**

الجواب حامداًومصلياً

دحيوان سـره پـه وطې كولو سـره تعذيرلازمېږي، اودتعذيرمقدار اواندازه دقاضـي ورايې ته مفوظه ده .

وفي (رد المحتار) (٤/ ٢٦)

(و) لا يحد بوطء (بهيمة) بل يعزر وتذبح ثم تحرق، ويكره الانتفاع بها حية وميتة مجتبى.

(قوله وتذبح ثم تحرق) أي لقطع امتداد التحدث به كلما رئيت وليس بواجب كما في الهداية وغيرها، وهذا إذا كانت مما لا تؤكل، فإن كانت تؤكل جاز أكلها عنده. وقالا: تحرق أيضا، فإن كانت الدابة لغير الواطئ يطالب صاحبها أن يدفعها إليه بالقيمة ثم تذبح، هكذا قالوا ولا يعرف ذلك إلا سماعا فيحمل عليه زيلعي ونه.

له خپله مذهب څخه وبل مذهب ته انتقال کول؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مولوي صاحب !

که یو سړی له خپله مذهب څخه وبل مذهب ته ځي او خپل مذهب پرېږدي ایاهمدغه سړی ګناه ګاردی اوکه نه ؟ او په همدغه سړي کفاره یایوبل شی په دنیا کې شته که نه ؟بینوا تؤجروا !

المستفتی: دجهادی مدرسي د تخصص له طرفه. تاریخ ۵/ ۵/ ۱۴۴۵هـ ق

الجواب باسم ملهم الصواب .

حامدا و مصلیا وبعد : په مذکوره مسئله کښې ډېر تفصیل دی ځکه منتقل لره چې له خپل مذهبه انتقال کوي وبل مذهب ته ډېر احوال لري .

اول حال متنقل به په سبب ددنیا او خوهشاتو انتقال کړي وي لکه حصول دوظیفې ،مرتبې ،او نزدیکت و باچاهانو ته دغه اول حال د منتقل په دوه قسمه دی.

اول: یا به دا منتقل به خبر نه وي په فقه یو اځې د خپل مذهب نوم به یې زده وي لکه: زه حنفی یم زه شافعی یم نو دا ډول انتقال سپک دی حد دتحریم ته نه رسېږي ځکه دا شخص

تر د اوســه « عامی لا مذهب» له دې چې دی په هغه مذهب ثابت شــي نو په حال د انتقال کښې ده ابتداء د نوې مذهب وکړه .

دوهم : دا منتقل به فقیه وي علم به په فقهې مســائلو لري او غرض او هدف یې دنیا او خواهشــات وي .نو دا انتقال ډېر بد ده او دا انتقال حرام دی مســتوجب د تادیب او تعزیردی .اوشاهدي یې نه قبلېږي .

دوهم : حال چې منتقل انتقال وکړي لپاره د غرض دیني دا دوهم حال په دوه ډوله دی .

اول قســم: چې منتقل عالم په فقه ده خو رجوع کړې وي وبل مذهب ته لجهته د یو قوي دلیل یعنې د قوة ددلیل په اساس په دې اساس رجوع کول وبل مذهب ته واجب دی په ده باندې یارجوع کول روا ده ودته .

اودویم :حال دادی چې منتقل انتقال وکړي نه د غرض دیني او نه غرض دنیوې لپاره یعنې خالي وي له قصد دا دویم حال بیا په دوه قسمه ده اول قسم انتقال د عامی چې په فقه علم نه لري مکروه ده دوهم قسم دادی چې عالم په فقه وي او دا ډول انتقال ممتنع ده

وقال العلامة محمد أمين بن عمر عابدين (المتوفى: ۱۲۵۲هـ)

ونقل السيوطي في رسالته المسماة بجزيل المواهب في اختلاف المذاهب من فصل الانتقال من مذهب إلى مذهب وهو جائز إلى أن قال وأقول: للمنتقل أحوال: الاول أن يكون السبب الحامل له على الانتقال أمرا دنيويـا كحصــول وظيفة او مرتب او قرب من الملوك وأهل الدنيا فهذا حكمه كمهاجر أم قيس لأن الأمور بمقاصدها ثم له حالان الاول أن يكون عاريا من معرفة الفقه ليس له في مذهب امامه سوى اسم شافعي او حنفي كغالب متعممي زماننا أرباب الوظائف في المدارس حتى أن رجلا سأل شيخنا العلامة الكافيجي - رحمه الله تعالى - مرة يكتب له على قصة تعليقا بولاية اول وظيفة تشغر بالشيخونية فقال له: ما مذهبك فقال: مذهبي خبز وطعام يعنئ وظيفة اما في الشافعية او المالكية او الحنابلة فإن الحنفية في

الشيخونية لا خبز لهم ولا طعام فهذا أمره في الانتقال أخف لا يصل إلى حد التحريم لأنه إلى الآن عامي لا مـذهـب لـه يحققـه فهو يسـتأنف مذهبا جديدا ثانيهما أن يكون فقيها في مذهب ويريد الانتقال لهذا الغرض فهذا أمره أشد وعندي.

أنه يصل إلى حد التحريم لأنه تلاعب بالأحكام الشرعية لمجرد غرض الدنيا.

الحال الثاني أن يكون الانتقال لغرض ديني وله صـورتان: الاولى أن يكون فقيها في مذهبه وقد ترجح عنده المذهب الاخر لما رآه من وضـوح أدلته وقوة مداركه فهذا ما يجب عليه الانتقال او يجوز كما قاله الرافعي ولهذا لما قدم الشافعي مصر تحول أكثر أهلها شافعية بعد أن كانوا مالكية، والثانية أن يكون عاريا من الفقه وقد اشتغل بمذهبه فلم يحصل منه على شيء ووجد مذهب غيره سهلا عليه سريعا إدراكه بحيث يرجو التفقـه فيـه فهـذا يجـب عليه الانتقال قطعا ويحرم التخلف لأن التفقه على مذهب امام من الأئمة الأربعة خير من الاسـتمرار على الجهل وليس له من التمذهب سـوى اسـم حنفي او شـافعي او مالكي فالتمذهب على مذهب أي امام كان خير من الجهل بالفقه على كل المذاهب فإن الجهل بالفقه تقصـير كبير، وقل أن تصـح معه عبادة وأظن هذا هو السبب لتحول الطحاوي حنفيا بعد أن كان شافعيا فإنه كان يقرأ على خـالـه المزني فاعتاص عليه الفهم يوما فحلف المزني أنه لا يجيء منه فانتقل حنفيا ففتح عليه وصنف كتابه شرح معاني الآثار فكان إذا قرئ عليه يقول لو عاش خالي كفر عن يمينه، قال بعض العلماء وقد حكى هذه الحكاية لا حنث على المزني لأن مراده لا يجيء منه شيء في مذهب الشافعي قلت: ولا يسـتنكر ذلك فرب شـخص يفتح عليه في علم دون علم، وفي مذهب دون مذهب وهي قسـمة من الله تعالى وكل ميسر لما خلق له وعلامة الإذن التيسير.

الحـال الثالث: أن يكون الانتقال لا لغرض ديني ولا لغرض دنيوي بل مجردا عن القصـد فهذا يجوز للعامي ويكره او يمنع للفقيه لأنه قد حصل فقه ذلك المذهب ويحتاج إلى زمن اخر لتحصيل فقه هذا

المذهب فيشغله ذلك عما هو الأهم من العمل بما تعلمه وقد ينقضي العمر قبل حصول المقصود من المذهب الثاني فالاولى ترك ذلك انتهت عبارة الرسالة.

العقود الدريةفي تنقيح الفتاوى الحامدية (٢/ ٣٦٠-٣٦١)

وايضاقال:

ولو أن رجلا برئ من مذهبه باجتهاد وضح له كان محمودا مأجورا.

اما انتقال غيره من غير دليل بل لما يرغب من عرض الدنيا وشهوتها فهو المذموم الآثم المستوجب للتأديب والتعزير لارتكابه المنكر في الدين واستخفافه بدينه ومذهبه اهـ ملخصا.

وفيها عن الفتاوى النسفية: الثبات على مذهب أبي حنيفة خير واولى، قال: وهذه الكلمة أقرب إلى الألفة اهـ: وفي اخر التحرير للمحقق ابن الهمام: مسئله لا يرجع فيما قلد فيه أي عمل به اتفاقا، وهل يقلد غيره في غيره؟ المختار نعم للقطع بأنهم كانوا يستفتون مرة واحدا ومرة غيره غير ملتزمين مفتيا واحدا فلو التزم مذهبا معينا كأبي حنيفة والشافعي، فقيل يلزم، وقيل لا، وقيل مثل من لم يلتزم، وهو الغالب على الظن لعدم ما يوجبه شرعا اهـ ملخصا قال شارحه المحقق ابن أمير الحاج: بل الدليل الشرعي اقتضى العمل بقول المجتهد وتقليده فيه فيما احتاج إليه وهو - {فاسألوا أهل الذكر} [النحل: ٤٣]- والسوال إنما يتحقق عند طلب حكم الحادثة المعينة، فإذا ثبت عنده قول المجتهد وجب عمله به واما التزامه فلم يثبت من السمع اعتباره ملزما إنما ذلك في النذر، ولا فرق في ذلك بين أن يلتزمه بلفظه او بقلبه على أن قول القائل مثلا قلدت فلانا فيما أفتى به تعليق التقليد والوعد به ذكره المصنف. اهـ

(رد المحتار) (٦/ ١٢٨)

وايضاً قال:

(قوله من مذهب أبي حنيفة) أي استخفافا. قال في القنية من كتاب الكراهية: ليس للعامي أن يتحول من مذهب إلى مذهب، ويستوي فيه الحنفي والشافعي، وقيل لمن انتقل إلى مذهب الشافعي ليزوج له أخاف أن يموت مسلوب الإيمان لإهانته للدين لجيفة قذرة. وفي اخر هذا الباب من المنح: وإن انتقل إليه لقلة مبالاته في الاعتقاد والجراءة على الانتقال من مذهب إلى مذهب كما يتفق له ويميل طبعه إليه لغرض يحصل له فإنه لا تقبل شهادته اهـ. فعلم بمجموع ما ذكرناه أن ذلك غير خاص بانتقال الحنفي وأنه إذا لم يكن لغرض صحيح، فافهم ولا تكن من المتعصبين فتحرم بركة الأئمة المجتهدين، وقدمنا هذا البحث مستوفى في فصل التعزير فارجع إليه.

(رد المحتار)٨/ ٢٢٤).

وكذافي الطحطاوي على الدرالمختار:٦/ ١٣٤).او ٨/ ٣٩٥).

وكذافي فتح القدير:٤/ ٢٣٨).

په اسلام کي د حبس / بند څه حکم دی ؟

الاستفسار :محترم مفتي صاحب!

په اسلام کي د حبس / بند څه حکم دی ؟ او د دې لپاره د خاص ځای تعیین جائز دی کنه؟ که په اسلام کي زندان سته نو أول زندان چا جوړ کړ؟بینوا تؤجروا !

الاستبشار :

حامداً ومصلیاً وبعد : حبس /بندي کول د مجرم په اسلام کي جائز او مشروع دی په اجماع د صحابه کرامو، او فقهاء ، او دارکم عقل هم د دې غوښتنه کوي چي د محرم د معلومه ولو لپاره، او د مفسد د فساد څخه د منع لپاره حبس مشروع سي ، او دا د قاضي د حقوقو څخه یو حق دی . او دا په کتاب الله، سنة الرسول، اجماع، او قیاس سره ثابت دی.

او د حبس او بند لپاره د ځانګړي ځای تعیین د جمهورو پر قول جائز دی ، خو ځیني بیا مستحب بولي.

د مجرم حبس او بندي کول په خپله جناب رسول الله صل الله علیه وسلم په مبارک ژوند کي وو ، چي په مسجد او یا د مسجد په دهلیز کي به یې په یو ستون پوري تاړه ، خو د حضرت نبي کریم صل الله علیه وسلم، او د هغه د أول راشد خلیفه أبو بکر الصدیق "رضی الله عنه" په زمانه کي د بند لپاره یو ځانګړی ځای د محبس، یا سجن په نامه نوو جوړ

چي وروسته بیا اول د زندان لپاره د خاص ځای تعیین د عمر "رضـي الله عنه" په دور خلافت کي وسو، چي د هغه عامل نافع بن عبد الحارث د صفوان بن أمیة کور په څلور زره دیناره د زندان لپاره واخستی په مکه مکرمه کي .

خو مستقل د زندان لپاره ځای بیا د علی رضی الله عنه په خلافة کي جوړ سو ،چي أول وار یې نوم نافع کښېښود ، وروسته بیا د هغه څخه بند یا وتښتېدل، بیا یې محکمه او کلک جوړ کړ نوم یې ور باندي "مخَیِّس" (خواره ونکی) کښېښود .

نو که څوک وایي: چي اول زندان عمر رضی الله عنه جوړ کړی دا په دې معنی ده چي د ځای تعیین د ده په خلافت کي وسو، او چاچي ویلي چي أول زندان او محبس علي رضی الله عنه جوړ کړ نو دا بیا په دې معنی چي أول د زندان بناء علی رضی الله عنه کړې ده.

لما في الموسوعة الفقهية الكويتية (١٦/ ٢٨٦).

وَأَجْمَعَ الصَّحَابَةُ وَمَنْ بَعْدَهُمْ عَلَى مَشْرُوعِيَّةِ الْحَبْسِ، وَقَدْ حَبَسَ الْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُونَ وَابْنُ الزُّبَيْرِ وَالْخُلَفَاءُ وَالْقُضَاةُ مِنْ بَعْدِهِمْ فِي جَمِيعِ الأَعْصَارِ وَالأَمْصَارِ مِنْ غَيْرِ إِنْكَارٍ، فَكَانَ ذَلِكَ إِجْمَاعًا.

وَتَدْعُو الْحَاجَةُ - عَقْلاً - إِلَى إِقْرَارِ الْحَبْسِ، لِلْكَشْفِ عَنِ الْمُتَّهَمِ، وَلِكَفِّ أَهْل الْجَرَائِمِ الْمُنْتَهِكِينَ لِلْمَحَارِمِ، الَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَادًا وَيَعْتَادُونَ ذَلِكَ، أَوْ يُعْرَفُ مِنْهُمْ، وَلَمْ يَرْتَكِبُوا مَا يُوجِبُ الْحَدَّ وَالْقِصَاصَ.

ولمافي "البحر الرائق " (٦/ ٣٠٧) [فصل في الحبس]

قدمنا أنه مما يملكه القاضي على الممتنع عن إيفاء الحق وتعزيرا فكان من عمله فذكره فيه وهو في اللغة المنع، وهو مصدر حبسه من باب ضرب ثم أطلق على الموضع وجمع على حبوس مثل فلس وفلوس كذا في المصباح ودليله الكتاب {أو ينفوا من الأرض} والمراد منه الحبس والسنة «حبسه - عليه الصلاة والسلام - رجلا بالتهمة» والإجماع عليه، وكان في المسجد إلى زمن علي - رضي الله عنه - فبنى سجنا، وهو أول من بناه في الإسلام وسماه نافعا ولم يكن حصينا لكونه من قصب فانفلت الناس منه فبنى آخر وسماه مخيسا .

ولما في الدر المختار: (٥/ ٣٧٧)

وأحدث السجن علي - رضي الله تعالى عنه - بناه من قصب وسماه نافعا فنقبه اللصوص فبنى غيره من مدر وسماه مخيسا بفتح الياء وتكسر موضع التخسيس وهو التذليل .

ولما في شرحه لابن عابدين الشامي:

قوله وأحدث السجن علي) أي أحدث بناء سجن خاص فلا ينافي ما قالوا أيضا من أنه لم يكن في عهده - صلى الله عليه وسلم - وأبي بكر سجن، إنما كان يحبس في المسجد أو الدهليز حتى اشترى عمر ــرضي الله تعالى عنهـ دارا بمكة بأربعة آلاف واتخذه محبسا.

*ولمافي الموسوعة الفقهية الكويتية (١٦/ ٣١٥).

الْقَوْل الأْوَّل: يَجُوزُ لِلْحَاكِمِ إِفْرَادُ مَوْضِعٍ لِيَحْبِسَ فِيهِ، وَهَذَا قَوْل الْجُمْهُورِ، بَل إِنَّ بَعْضَهُمُ اعْتَبَرَ ذَلِكَ مِنَ الْمَصَالِحِ الْمُرْسَلَةِ .

وَقَال آخَرُونَ: إِنَّهُ مُسْتَحَبٌّ،وَاسْتَدَلُّوا لِهَذَا بِفِعْل عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حِينَ اشْتَرَى لَهُ نَافِعُ بْنُ عَبْدِ الْحَارِثِ عَامِلُهُ عَلَى مَكَّةَ دَارًا لِلسَّجْنِ مِنْ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ بِأَرْبَعَةِ آلاَفِ دِرْهَمٍ. كَمَا أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَوَّل مَنْ أَحْدَثَ سِجْنًا فِي الإِسْلاَمِ وَجَعَلَهُ فِي الْكُوفَةِ .

الورع البارد، څه ته وايي ؟

《الاستفتاء:》 محترم مفتي صاحب!

الورع البارد ، څه ته وايي ؟او تعزير پکښې سته او که نه؟ که تعزير پکښې وي نو څو نه به وي؟بينوا تؤجروا

المستفتي:فضل الرحمن تاريخ:۲۱/ ۱/ ۱۴۴۲هق

(الجواب باسم ملهم الصواب)

حامداً ومصلياً وبعد : الورع البارد ،يا الزهد البارد ، دې ته وايي چې په لږ معمولي شي کښې ډېره بلا إنتهاء تقوی خلګو ته ښکاره کوي اود خلګو په ذهن کښې داور کوي چې زه ډېر تقوی دار يم، د دې بيا ډېر صورتونه دي او تعزير پکښې سته،دخپلې زماني قاضي يا حاکم به تعزير ور کوي چې څو نه يې خوښه سي اومناسب يې وګڼې ځکه تعزير مفوض دی ورايې دامام اوقاضي ته.

(۱)لماقال العلامة محمد أمين بن عمر بن عابدين الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲هـ)

(قولـه يعزر على الورع البارد إلخ) قال في التتارخانية: روي أن رجلا وجد تمرة ملقاة فأخذها وعرفها مرارا ومراده إظهـار ورعـه وديانته، فقال له عمر – رضـي الله تعالى عنه –: كلها يا بارد الورع فإنه ورع يبغضه الله تعالى وضربه بالدرة. اهـ.

قلت: وبه علم أن المراد ما كان على وجه الرياء كما أفاده بقوله البارد فافهم، فلو كان من أهل الورع فهو ممدوح كما نقل أن امرأة سـألت بعض الأئمة عن الغزل على ضوء العسس حين يمر على بيتها فقال من أنت؟ فقالت: أنا أخت بشر الحافي، فقال لها: لا تفعلي، فإن الورع خرج من بيتكم.

رد المحتار على الدر المختار:۶/ ۱۳۰ باب التعزير ط:رشيدية ۱۲

(۲)لماقال العلامة أحمد بن محمد مكي الحموي الحنفي (المتوفى: ۱۰۹۸هـ)

(۱۲) قوله: يعزر على الورع البارد إلخ أصـله كما في التتارخانية ما روي أن رجلا وجد تمرة ملقاة في سوق المدينة في زمن عمر بن الخطاب - رضي الله عنه -، فأخذها وقال من فقد هذه التمرة وهو يكرر، وكلامه ومراده من هذا إظهار زهده وديانته على الناس فسمع عمر - رضي الله عنه - كلامه وعرف مراده فقال كل يا بارد الورع فإنه ورع يبغضه الله تعالى وضربه بالدرة.

(غمز عيون البصائر:۲/ ۲۰۱ الفن الثاني كتاب الحدود والتعزير ط:عمرية)

(۳)لماقال العلامة سراج الدين عمر بن إبراهيم بن نجيم الحنفي (ت ۱۰۰۵هـ)

تتمة: مما يعزر به الورع البارد وكما إذا وجد تمرة ملقاة على الأرض فعرفها، كذا في (التتارخانية)

(النهر الفائق شرح كنز الدقائق:۳/ ۱۷۱ فصل فى التعزير)

(۴)لماقال العلامة فريد الدين عالم بن علاء الهندي (المتوفى:۷۸۶هق)

۹۶۳۹:-وفى الكفاية فى الاكراه: ومن التعزير الزهد البارد-وفى اليواقيت

روي أن رجلا قـدوجد تمرة ملقاة في سـوق المدينة في زمن عمر بن الخطاب - رضـي الله عنه -، فـأخـذها فقال :من فقد هذه التمرة وهو يكرر،كلامه ويعرفها ومراده من هذا إظهار زهده وورعه وديانته

على الناس فسمع عمر – رضي الله عنه – كلامه وعرف مراده فقال كل يا مارد! فإنه ورع يبغضه الله تعالى وضربه بالدرة.

(الفتاوي التاتارخانية:۶/ ۳۹۹ الفصل الثامن فی التعزير ط:حنفية.

(۵)=وكذافی الفتاوی الهندية:۲/ ۱۶۹ فصل فی التعزير ط:رشيدية.

متهم ته تعزير ورکول څه حکم لري؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

که یو سړی په ناروا عمل اوکار متهم وي ، اوس دغه سړي ته مخکې تر ثبوته د دغه جرم ، حبس(بند) ورکول جواز لري او که نه ؟ بینوا تؤجروا !

المستفتي: احمد تاریخ:۱۴۴۵/۱/۲۵هق

الجواب باسم ملهم الصواب.

حامداً ومصلياً وبعد: په مذکوره صورت کې ، دغه سړي ته مخکې تر ثبوته د دغه جرم ، حبس(بند) ورکول جواز لري.عامه خبره د که دغه بند د جزاء په شکل ورکول سي ، او که د دې لپاره ورکول سي ،چې د دغه موضوع تحقیق وکړل سي ، او یا د دې لپاره ورکول سي ،چې هغه لېږي شاهدان حاضر کړل سي ، اویا د نورو وجهو ورکول سي.

وفي فتاوى قاضيخان (۳/ ۲۹۶).

و من يتهم بالقتل و السرقة و ضرب الناس يحبس و يخلد في السجن إلى أن يظهر التوبة.

وكذا في فتح القدير(۷/ ۱۷۷).

وروي عن أبي يوسـف في الذي ... ومن يتهم بالقتل والسرقة وضرب الناس فإني أحبسه وأخلده في السجن إلى أن يتوب، لأن شر هذا على الناس وشر الاول على نفسه.

وفي « رد المحتار » (٤/ ٧٦). ط: الحلبي

«وَمَنْ يُتَّهَمُ بِالْقَتْلِ وَالسَّـرِقَةِ وَضَـرْبِ النَّاسِ أَحْبِسُـهُ وَأُخَلِّدُهُ فِي السِّـجْنِ حَتَّى يَتُوبَ لِأَنَّ شَـرَّ هَذَا عَلَى النَّاسِ»

(قَوْلُهُ حَتَّى يَتُوبَ) الْمُرَادُ حَتَّى تَظْهَرَ أَمَارَاتُ تَوْبَتِهِ إذْ لَا وُقُوفَ لَنَا عَلَى حَقِيقَتِهَا، وَلَا يُقَدَّرُ بِسِتَّةِ أَشْهُرٍ إذْ قَدْ تَحْصُلُ التَّوْبَةُ قَبْلَهَا، وَقَدْ لَا تَظْهَرُ بَعْدَهَا، كَذَا حَقَّقَهُ الطَّرَسُوسِيُّ وَأَقَرَّهُ ابْنُ الشِّحْنَةِ.

وفي « رد المحتار » (٤/ ٧٦) ط :الحلبي

«قُلْت: وَمِثْلُهُ مَا لَوْ كَانَ الْمُتَّهَمُ مَشْـهُورًا بِالْفَسَـادِ فَيَكْفِي فِيهِ عِلْمُ الْقَاضِي كَمَا أَفَادَهُ كَلَامُ الشَّارِحِ. وَفِي رِسَـالَةِ دَدَهْ أَفَنْدِي فِي السِّـيَاسَةِ عَنْ الْحَافِظِ ابْنِ قَيِّمِ الْجَوْزِيَّةِ الْحَنْبَلِيِّ: مَا عَلِمْت أَحَدًا مِنْ أَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ يَقُولُ إنَّ هَذَا الْمُدَّعَى عَلَيْهِ بِهَذِهِ الدَّعْوَى وَمَا أَشْـبَهَهَا يُحَلَّفُ وَيُرْسَـلُ بِلَا حَبْسٍ، وَلَيْسَ تَحْلِيفُهُ وَإِرْسَـالُهُ مَذْهَبًا لِأَحَدٍ مِنْ الْأَئِمَّةِ الْأَرْبَعَةِ وَلَا غَيْرِهِمْ وَلَوْ حَلَّفْنَا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ وَأَطْلَقْنَاهُ مَعَ الْعِلْمِ بِاشْتِهَارِهِ بِالْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ وَكَثْرَةِ سَـرِقَاتِهِ وَقُلْنَا لَا نَأْخُذُهُ إلَّا بِشَـاهِدَيْ عَدْلٍ كَانَ مُخَالِفًا لِلسِّـيَاسَةِ الشَّرْعِيَّةِ. وَمَنْ ظَنَّ أَنَّ الشَّـرْعَ تَحْلِيفُهُ وَإِرْسَالُهُ فَقَدْ غَلِطَ غَلَطًا فَاحِشًا، لِنُصُوصِ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَلِإِجْمَاعِ الْأَئِمَّةِ، وَلِأَجْلِ هَذَا الْغَلَطِ الْفَاحِشِ تَجَرَّأَ الْوُلَاةُ عَلَى مُخَالَفَةِ الشَّرْعِ وَتَوَهَّمُوا أَنَّ السِّيَاسَةَ الشَّرْعِيَّةَ قَاصِرَةٌ عَلَى سِيَاسَـةِ الْخَلْقِ وَمَصْـلَحَةِ الْأُمَّةِ، فَتَعَدَّوْا حُدُودَ اللَّهِ تَعَالَى وَخَرَجُوا مِنْ الشَّـرْعِ إلَى أَنْوَاعٍ مِنْ الظُّلْمِ وَالْبِدَعِ فِي السِّيَاسَةِ عَلَى وَجْهٍ لَا يَجُوزُ، وَتَمَامُهُ فِيهَا.

وَفِي هَذَا تَصْرِيحٌ بِأَنَّ ضَرْبَ الْمُتَّهَمِ بِسَرِقَةٍ مِنْ السِّيَاسَةِ، وَبِهِ صَرَّحَ الزَّيْلَعِيُّ أَيْضًا كَمَا سَيَأْتِي فِي السَّرِقَةِ. وَبِهِ عُلِمَ أَنَّ لِلْقَاضِي فِعْلَ السِّيَاسَةِ وَلَا يَخْتَصُّ بِالْإِمَامِ كَمَا قَدَّمْنَاهُ فِي حَدِّ الزِّنَا مَعَ تَعْرِيفِ السِّيَاسَةِ»

وفي «الموسوعة الفقهية الكويتية» (١٦/ ٣٠٥)«ج – حَبْسُ الْمُتَّهَمِ بِالْقَذْفِ

مَنْ أَقَامَ شَاهِدًا وَاحِدًا عَلَى قَذْفِهِ حُبِسَ قَاذِفُهُ لِاسْتِكْمَال نِصَابِ الشَّهَادَةِ. وَمَنِ ادَّعَى عَلَى آخَرَ قَذْفَهُ وَبَيِّنَتُهُ فِي الْمِصْرِ يُحْبَسُ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ لِيُحْضِرَ الْمُدَّعِي الْبَيِّنَةَ حَتَّى قِيَامِ الْحَاكِمِ مِنْ مَجْلِسِهِ وَإِلاَّ خُلِّيَ سَبِيلُهُ بِغَيْرِ كَفِيلٍ، وَهَذَا مَذْهَبُ الْحَنَفِيَّةِ وَالْمَالِكِيَّةِ بِخِلَافِ الشَّافِعِيَّةِ».

وفي «الموسوعة الفقهية الكويتية» (١٦/ ٣٠٧)«ج – حَبْسُ الْمُتَّهَمِ بِالسَّرِقَةِ

نَصَّ الْفُقَهَاءُ عَلَى حَبْسِ الْمُتَّهَمِ بِالسَّرِقَةِ لِوُجُودِ قَرِينَةٍ مُعْتَبَرَةٍ فِي ذَلِكَ كَتَجَوُّلِهِ فِي مَوْضِعِ السَّرِقَةِ وَمُعَالَجَتِهِ أُمُورًا تُعْتَبَرُ مُقَدِّمَاتٍ لِذَلِكَ».

وفي «الموسوعة الفقهية الكويتية» (١٦/ ٣١٣)« حَبْسُ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ الْحَدَّ وَالْقِصَاصَ حَتَّى يُعَدَّل الشُّهُودُ.

ذَهَبَ الْفُقَهَاءُ إِلَى أَنَّ لِلْقَاضِي حَبْسَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ حَتَّى يَتَثَبَّتَ مِنَ الدَّعْوَى بِحُجَّةٍ كَامِلَةٍ فِيمَا كَانَ أَقْصَى عُقُوبَةٍ فِيهِ غَيْرَ الْحَبْسِ كَالْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ، حَيْثُ أَقْصَى الْعُقُوبَةِ فِيهَا الْقَتْل وَالْقَطْعُ وَالْجَلْدُ، فَيَحْبِسُ الْقَاضِي الْمُدَّعَى عَلَيْهِ وَبِخَاصَّةٍ فِي حَقِّ الآدَمِيِّ حَتَّى يَكْشِفَ الْقَاضِي عَنْ عَدَالَةِ الشُّهُودِ؛ لأَِنَّ ذَلِكَ مِنْ وَظِيفَتِهِ بَعْدَ أَنْ أَتَى الْمُدَّعِي بِمَا عَلَيْهِ مِنَ الْبَيِّنَةِ.

فَمَنِ ادَّعَى عَلَيْهِ بِسَـرِقَةٍ يُحْبَسُ حَتَّى تَظْهَرَ عَدَالَةُ الشُّـهُودِ فِي ذَلِكَ. وَمَنِ ادَّعَى عَلَى آخَرَ أَنَّهُ قَذَفَهُ وَبَيِّنَتُهُ فِي الْمِصْرِ حُبِسَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ، لِيُحْضِرَ الْمُدَّعِي بَيِّنَتَهُ حَتَّى يَقُومَ الْحَاكِمُ مِنْ مَجْلِسِهِ وَإِلاَّ خَلَّى سَبِيلَهُ بِدُونِ كَفِيلٍ. فَإِنْ كَانَتْ بَيِّنَتُهُ غَائِبَةً أَوْ خَارِجَ الْمِصْرِ فَلَا يُحْبَسُ، فَإِذَا أَقَامَ شَاهِدًا وَاحِدًا حَبَسَهُ».

وكذافي الفتاوى الهندية (٢/ ١٦٩).

كذا البناية شرح الهداية (٨/ ٤٣٢).

وكذا في البحر الرائق(٥/ ٤٦).

کتاب البیع:

کمېشن اخیستل څه حکم لري ؟

﴿الاستفتاء:﴾ څه فرمايي علماء کرام په دامسئله کې:

چې زيد پرعمرموټرخرڅ کړی په درې لکه روپۍ. خوعمرددغه درې لکه روپوحواله وه زيدته پريوصراف ورکړه چې څلوېښت ورځي بعده به دغه روپۍ زيدته ورکړې صراف اوکې قبوله کړه دزيدهم قبوله سوه وروسته څه وخته بعده زيدبل صراف ته وويل چې دفلانکي صراف سره زما روپۍ دي څلوېښت ورځي بعده يې راکوي نوته ماته اوس درې لکه روپۍ راکه دهغه صراف څخه زماروپۍ چې دي هغه ته واخله نوداصراف ورته وويل چې ټيک ده خوزه کمېشن اخلم ددې څلوېښت ورځوپه مقابل کړې درې زره ده ورته وويل ټيک ده نوايا دابيعه يادا حواله په دغه شکل جائزده که سودده ؟ **بينوا تؤجروا !**

المستفتي: دين محمد

الجواب باسم ملهم الحق والصواب

دغه صورت مسؤله په دغه شکل نه ده جائز،البته حيله دجواز د دې صورت سته:

هغه دا چې دلته به دوې معاملې سره جلا جلا کوي.

❶ یوه معامله به دا وي چې زید به دویم صراف (چې زید ته اوس نغدي پیسې ورکوي) د خپل پیسو د وصولی اجير(مذدور) جوړکړي او د هغه لپاره به اجرت او کرايه(مثلاً ۳۰۰۰) مقرره کوي او هغه کرايه به تر مخه ورکوي .

البته مخکې ورنه کړه بیا به درې زره کم درې لکه (۲۹۷۰۰۰)قرض ورڅخه اخلي او ۳۰۰۰ به اجرت سي دصراف.

2 دوهمه معامله به دا کوي چې زید به دد غه دویم صـراف څخه هغومره رقم په قرض واخلي څومره چې په عمرباندې دزید قرض و (مثلاً دلته لکه درې لکه روپۍ) اوس دغه دویم صراف بیا داول صراف څخه د درې لکه روپۍ اصول کړي او بیا به پخپل قرض کې مجري کړي چې کم قرض یې زید ته ورکړی دي

نو په دغه صورت سره بیا مسؤله صورت جائز ګرځي.

حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تعالي ،کتاب: الحلال والحرام.

دا متبادل صـورت د ضـرورت په وخت کې دي خو ددې لپاره دا څلور شـرطونه ضـروري دي

(۱)د وکالت او د قرض دواړه عقود به بالکل سره جلا جلا وي

(۲)د وکیل اجرت او کرایه به پر چېک نه مربوطه وي یعني د بینک د پیسو پر وصولولو به د وکیل اجرت نه مربوطه وي یعنې که پیسې ژر در کړل سي نو اجرت به دي لږ وي او که وځنډېدی نو اجرت به دې ډیر وي

(۳)د قرض ورکولو په وجه به د وکیل اجرت او کرایه نه ډېرېږي

(۴)که چېري بالفرض دا چېک باونس سو یعني د چېک پیسـې نه سوې اوصـول نو هم قرض خواه خپل قرض غوښتلای سي .

وفي موطأ مالك رواية محمد بن الحسن الشيباني (۲۹۲/ ۱)۸۲۰)

أخبرنا مالك، أخبرنا موسي بن مرة، أنه سمع رجلا يسأل سعيدبن المسيب فقال: إني رجل أبيع الدين، وذكر له شيئا من ذلك، فقال له ابن المسيب: لا تبع إلا ما آويت إلى رحلك. قال محمد: وبه

نأخذ، لاينبغي للرجل أن يبيع دينا له على إنسـان إلا من الذي هو عليه، لأن بيع الدين غرر، لا يدرى، أيخرج منه أم لا؟ وهو قول أبي حنيفة رحمه الله

وفي بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (ه/ ۱۴۸)

ولا ينعقد بيع الدين من غير من عليه الدين؛ لأن الدين اما أن يكون عبارةعن مال حكمي في الذمة، وإما أن يكون عبارة عن فعل تمليك المال وتسليمه، وكل ذلك غير مقدور التسليم في حق البائع، ولو شرط التسليم على المديون لا يصح أيضا؛ لأنه شرط التسليم على غير البائع فيكون شرطافاسدا فيفسد البيع، ويجوز بيعه ممن عليه؛ لأن المانع هو العجز عن التسليم،ولا حاجة الى التسليم ههنا، ونظير بيع المغصوب أنه يصح من الغاصب، ولايصح من غيره إذا كان الغاصب منكرا، ولا بينة للمالك.

وفي «الحجة على أهل المدينة» (٢/ ٦٩٩)

«مُحَمَّد قَالَ قَالَ ابو حنيفَة لَا يَنْبَغِي ان يَشْتَرِي دينا على رجل حَاضر وَلَا غَائِب وَلَا على ميت باقرار من الَّذِي عَلَيْهِ الدّين وَلَا بإنكار لَان ذَلِك كُله غرر لَا يدْرِي ايخرج ام لَا يخرج»

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله

(الرباء) قال فى البحرفضل احدالمتجانسين نعم هذايناسب تعريف الكنز بقوله فضل مال بلاعوض في معاوضة مال بمال.

ردالمحتار: ۴ ص ۱۹۶ باب الربوا

قال العلامة ابن النجيم رحمه الله تعالى

فضل مال بلاعوض فى معاوضة مال بمال اى فضل احدالمتجانسين على الآ خربالعيارالسرى اى الكيل والوزن

(البحرالرئق ج ۶ ص ۱۲۴ باب الربوا باب بيع الدين

وفي بحوث في قضايا فقهية معاصرة : (۲/ ۱۲۲)

اما حسـم الكمبيالات، فيمكن تحصيل غرضه بطرق ثلاثة... الطريق الثالث: أن تكون هناك معاملتان مستقلتان بين البنك و بين حامل الكمبيالة

المعاملة الاولي : أن يوكل حامل الكمبيالة البنك بتحصـيل مبلغه من مصـدر الكمبيالة عند نضـجها، ويعطيه أجرا معلوم مقابل هذه الخدمة

والمعاملة الثانية: أن البنك يقرض العميل مبلغ الكمبيالة ناقصا منه

أجرة الوكالة قرضا بدون فائدة... وان هذا الطريق يشترط لجواز أمور :

الاول: أن يكون كل واحد من العقدين منفصلا عن الاخر ، فلاتشترط الوكالة في القرض، ولا القرض في الوكالة.

الثاني : أن لا تكون أجرة الوكالة مرتبة بمدة نضـج الكمبيالة. بحيث تكون الأجرزائدة ان كانت المدة طويلة وتكون أقل ان كانت قصيرة.

الثالث: أن لا يزاد في أجرة الوكالة بسبب القرض الذي أقرضه البنك فانه يكون حينئذ قرضا جر نفعا...

د پورنېټه نه ده معلومه دا بيعه جائزده که نه؟

﴿الاستفتاء:﴾ څه فرمايې علماءکرام په باره د دې مسئلې کښې :

چې يوڅوک له دوکانداره شيان وړي په پورچې په ماپسې يې ليکه قېمت يې معلوم ده خوده پورنېټه نه ده معلومه اوس داجائزده که نده جائز؟ بينوا تؤجروا !

مستفتي : عبدالله

الجواب حامداومصليا

دصـورت مسـؤله جواب دادی چې ښـه خبره داده چې وخت سـره معلوم کړي اوکه وخت معلوم نکړي خوددوی په مابین کې په عرف کې یوه نېټه وي چې ددې دواړو په کې نزاع نه راځي نودابیع جائزه ده

لمافی البحرالرائق:۶/ ۱۴۵،کتاب البیوع،باب البیع الفاسد،مط:رشیدیه

لاالـبـیع إلی النیروزوالمهرجـان وصــوم النصـــاری ....إن لم یـدرالعـاقـدان ذلـک...إلاإذاکـان یعرفانه....اوکان التأجیل إلی فطرالنصاری بعدماشرعوا فی صومهم.

ولمافی ردالمحتار:۷/ ۵۰،کتاب البیوع،مط:رشیدیه

(ولوبـاع مؤجـل)أی بلابیـان مدة بأن قال بعتک بدرهم مؤجل قوله صــرف لشــهرلأنه المعهودفی الشهرفی السلم والیمین فی لیقضین دینه اجلا...ان شرط صحة التأجیل ان یعرفه العاقدان.

ولمافی بدائع الصنائع:کتاب البیوع،۴/ ۳۹۳،مط:رشیدیه

فأماالتأخیرإلی الاجال المجهولة جهالة متقاربة،فلاتفضی إلی المنازعة لإن ا لناس یؤخرون الدیون إلی هذه الاجال عادة.

ولمافی فتاوي التاتارخانیه:کتاب البیوع،۸/ ۴۳۵،مط:حنفیه

ولوأجله إلی أجل مجهول فان کانت الجهالة فاحشة کهبوب الریح لایصح وإن کانت متقاربة ....یصح

ولمافی احسن الفتاوي :۶۵۰۴،کتاب البیوع

اگر بیع مئوجل ہےتوتعین اجل ضــروي ہے،البتہ اگرعاقدین کی درمیان تین دین یاایک ماہ کي معہودومعروف ہوتوعدم نزاع کی وجہ ســےجائزہےاورشـرعایہی مدت معتبرہوگی،ورنہ یہ بیع فاسدہوگی۔و

د اجل له امله دسرو زرو په قیمت کې زیاتوب؟

﴿الاستفتاء:﴾ څه فرمایي علماءکرام :

اجل له امله د سرو زرو په قیمت کې زیاتوب څنګه دی مثلا د درو (۳) لکو سره زر د اجل په وجه پنځه (۵) لکه ورکوي جواز لري که نه ؟بینوا تؤجروا !

مستفتي : مصطفی جان

الجواب حامدا ومصليا

دصورت مسؤله جواب دادی د اجل په خاطر زیاتوب صحیح دی مګر مستحسن کارنه دی باید په قرض حسن باندې یې ورکړي مسلمان دبل مسلمان سره مرسته وکړي.

قال الله تعالى {وَلَا تَنْسَوُا الفَضْلَ بَيْنَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ} [البقرة: ۲۳۷]

لمافی رد المحتار : ۷/ ۳۷۵، مطلب اشتری من شریکه سلعة، مط: رشیدیه جدید

لأن للأجل شبها بالمبيع ألا ترى أنه يزاد فى الثمن لاجله الاجل والشبهة فى هذا ملحقة بالحقيقة

لمافی الهداية : ۳/ ۷۶، باب المرابحة والتولية، مط: رشيديه

لأن للأجل شبها بالمبيع ألا يرى أنه يزاد فى الثمن لاجل الاجل والشبهة فى هذا ملحقة بالحقيقة.

لمافی فقه البيوع: ۱/ ۵۴۲، زيادة الثمن من أجل التأجيل،مط: ادارة القران

هل يجوزأن يكون المؤجل زائدا على الثمن الحال قد حكى الشوكاني رحمه الله عن زين العابدين على بن الحسين والناصر ، والمنصوربالله والهادية أنه لايجوز لكون الزيادة مقابلا للأجل وهو الربا اوفيه مشابهة الربا اماالائمة الأربعة وجمهور الفقهاءوالمحدثين فقد أجازو البيع المؤجل بأكثر من سعر النقد بشرط ان يبت العاقدان على انه بيع مؤجل بأجل معلوم فاما اذا قال البائع أبيعک نقدا بكذا ونسيئة بكذا وافترقا على ذلک دون أن يتفقا على تحديدواحد من الشقين فانه لا يجوز.

لمافی بحوث فی قضایا فقیه معاصره : ص(۷) احكام البيع بالتقسيط زيادة الثمن من أجل التأجيل ، مط: دارالعلوم كراچي

واما الائمه الاربعة وجمهور الفقهاءوالمحدثين فقد أجازو البيع المؤجل بأكثر من سعر النقد بشرط ان يبت العاقدان بانه بيع مؤجل باجل معلوم وبثمن معلوم متفق عليه عند العقد.

لمافی الهندية : ۳/ ۱۶۳، الباب الرابع عشر فی المرابحة والتولية، مط: الحقانية

لمافی التاتارخانية : ۹/ ۲۷۲، باب مايحدث بالسلعة ممايجب ، مط: حنفية

لمافی فتاوي محمودية : ۱۶/ ۱۵۴،ادهاركى وجه سي قيمت بڑهانا، مط: فاروقية كراچي

يو هلک ديولس کالودی ددغه عقد کول څنګه دی ؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

يو هلک د يولس کالودي او خپل کور لپاره هرعقد کوي لک بيع شـراء اجاره خپله کوي په خپل ګټه تاوان پوهېږي ،ايادد اسې هلک سره عقدصحت لري که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مفتي تاج محمدصاحب تاريخ: ۱۸/ ۱۱/ ۱۴۴۰

الجواب باسمه تعالی

حامداومصـلياوبعد :دهرهغه هلک سـره بيع او شـراءکول جائزدي چې په خپل ګټه تاوان(مميزعاقل)پوهېږي اوعمريې هم(۷)کاله وي يازيات تراوو وي پدې شـرط سـره چې دلاالتادولي له طرفه څه اجازه موجوده وي کچېري اجازه دولي له طرف څخه نه وه بيايې بيع شـراءموقوف دي ترڅوچې دي (هلک)ځواني تـه رسـېږي ياولي اجاز ورتـه وکړي.

لمافی البحرالرائق:۵/ ۴۳۳)

وليس من شرائط العاقدالبلوغ فينعقدبيع الصبى وشراءه موقوفا على اجازة.

ولمافى بدائع الصنائع:۴/ ۳۳۱)

ان يكون عاقلافلاينعدبيع المجنون والصبى الذى لايعقل،لان اهليته المتصرف شرط انعقادالتصرف فاماالبلوغ فليس بشرط لانعقادالبيع حتى لوباع الصبى العاقل مال نفسه ينعقدعندناموقوفاعلى اجازة وليه وعلى اجازه نفسه بعدالبلوغ.

ولمافى التاتارخانيه:۱۷/ ۴۰۲)

والتشبيه بالعبدالمأذون يفيدان ماثبت عن العبدمن الاحكام ثبت فى حقه(الصبى)فلاينعقدتصرف الصبى بنوع دون نوع ويصيرمأذونا بالسكوت.

ولمافى الفقه الحنفى:۴/ ۱۷)

ولمافى الفقه الاسلامى:۴/ ۱۲۲)

طلا یا سره زرد ګرانۍ په نیت ذخیره کول څه حکم لري؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

یو سړي طلا رانیولې وه نو ذخیره کړې یا یې محبوسه کړې او ساتلې وه د ګرانی په نیت او س چې کله د الرلوړسونو دی غواړي چې خرڅه یې کړي نو پوښتنه داده چې ایا دغه طلا یا سره زرد ګراني په نیت ذخیره کول او بیا ګران خرڅول خوبه د شریعت له نګاه څخه ناجائزوی او که نه؟ بینوابالکتاب توجروابالثواب

المستفتي : مولوي عبدالله صاحب

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

محترمه سره زر يا طلاء د ګراني په نيت رانيول او بيا ذخيره کول څه وخت بعده ګران خرڅول دا جائزدى په دې کې هيڅ قبحه نشته ځکه دې ته احتکار اصطلاحا بين الفقهاء نه ويل کېږي او نه هم دا د اسې شى دى چې خلک په معيشت کې سخت ضرورت ورته لري ځکه احتکار او ذخيره کول شرعا دې ته وايې چې يو څوک راولاړسي سامان راوړي مثلا د خوراک او چښاک اشياء يا د اسې مال چې خلک د هغو استعمال ته ضرورت لري لکه جامې دا په ګودام کې ذخيره کړي او بيا د ګراني په انتظار ورته کښېني او حال دا دى چې خلک اشد ضرورت ورته لري ليکن دى يې په معمولي ګټه نه ورکوي دغه عمل ته شرعا احتکار يا ذخيره اندوزي وايې او دا فعل حرام دى.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله

(قوله وكره احتكارقوت البشر) الاحتكارلغة: احتباس الشيء انتظارالغلائه والاسم الحكرة بالضم والسكون كمافى القاموس، وشرعا: اشتراءطعام ونحوه وحبسه الى الغلاء اربعين يومالقوله عليه السلام من احتكرعلى المسلمين اربعين يوما ضربه الله بالجذام والافلاس وفى رواية فقدبرءمن الله وبرءالله منه، قال فى الكفاية: اى خذله والخذلان ترك النصرة عندالحاجة اهـ

وفى اخرى فعليه لعنة الله والملائكة والناس اجمعين لايقبل الله منه صرفا ولاعدلاءالصرف: النفل والعدل الفرض شرنبلاليه عن الكافى وغيره وقيل شهرا وقيل اكثروهذالتقديرللمعاقبة فى الدنيابنحوالبيع وللتعذيرلاللالم لحصوله وان قلت المدة وتفاوته بين تربصه لعزته اوللقحط والعياذبالله تعالى درمنتقى مزيدا،والتقييدبقوت البشرقول ابى حنيفة ومحمدرح وعليه الفتوي كذافى الكافي وعن ابى يوسف رح كل مااضره بالعامة حبسه، فهواحتكاروعن محمدرح الاحتكارفى الثياب ابن الكمال.

ردالمحتار ج۵ ص۲۸۲ مکتبه رشیدیه

البحرالرائق ج۸ ص ۳۷۰ مکتبه رشیدیه

الفتاوي الهندیه ج۳ ص۲۱۳ مکتبه رشیدیه

الهدایه ج۴ ص۴۶۸ مکتبه حنفیه

فتاوای محمودیه ج۱۶ ص۲۳۴ اردو

اپ کے مسائل ج۷ ص۱۱۰ اردو

بیعه په شرط دبرائت دعیوبو څخه څه حکم لري؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

یو سړی د کابله څخه وبل سړي ته چې هغه په بولدک- وېش کې او سېږي تلېفون وروکړي چې زما یو څه مال دی دغه خو دلته راته خرڅ کړه دغه دبولدک والا سـړي ورته وویل چې دغه مال پرما خرڅ کړه ده ورته وویل چې زه دغه مال پرتا نه خرڅ وم ته شـناخته سـړی یې داسې نه چې بیا مو خوا سره بده وي ،خیر خو دغه دبولدک والا سړی ډېر پسـې شـله سو چې پرما یې خرڅ کړه او هغه د کابل والا سړي هم د دغه مال تصویرونه ورته راواستول چې دغه مال دی اوده ورته وویل چې صـحیح سـو مال زما دی راواېسـتوه ، هرکله چې مال بولدک ته راورسې دی هغه کابل والا ورور او دغه دبولدک والا سـړی مال ته ورغلل مال چې یې هر کله دموټر څخه راکښته کړی دغه دبولدک والا سړي وهغه بل سړي ته تلېفون وروکړي چې دغه مال به زه وګورم یعنې: چېک بې کړم هغه ورته وویل چې په چېک یو کاټن دټولو په بیعه نه درکوم ځکه ما هم بې چېکه رانېولی دی دغه مال دی که دي بې چېکه خوښ دی خوستاسو که نه زه یې په چېک نه خرڅه وم ، دغه دبولدک والا سړي دغه

مال خپل دوکان ته راوړي چې هرکله يې چېک کړي هغه ټول خراب واوس هغه دکابل والا سړي خپل پيسې غواړي او دغه دبولدک والا سړی ورته وايې چې پيسې دي حق نه کېږي ځکه ستا مال خراب و اوس پوښتنه داده: چې دغه دکابل والا سړي دپيسو حق لري او که نه؟ بينوا تؤجروا!

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصلياً وبعد: په مذکوره صورت کې دغه بيعه تامه (پوره) ده په شرط دبرائت دعيوبو ځخه اوبيعه په شرط د برائت دعيوبو ځخه جائز ده، نو دغه دکابل والا سړی دپيسو حق لري.

وفي فتح القدير: (٦/ ٣٩٧)

فإن البيع بشرط البراءة من كل عيب صحيح في الحيوان وغيره، ويبرأ البائع به من كل عيب قائم وقت البيع معلوم له او غير معلوم، ومن كل عيب يحدث إلى وقت القبض أيضا خلافا لمحمد في الحادث.

وفي العناية شرح الهداية (٦/ ٣٩٦)

البيع بشرط البراءة عن كل عيب صحيح سمى العيوب وعددها او لا علمه البائع او لم يعلمه وقف عليه المشتري او لم يقف أشار اليه او لا موجودا كان عند العقد والقبض او حدث بعد العقد قبل القبض عند أبي حنيفة وأبي يوسف في رواية. وقال محمد: لا يدخل الحادث قبل القبض وهو رواية عن أبي يوسف وهو قول زفر والشافعي ومالك.

وفي شرح الوقاية (٥/ ١٠٥)

(وصح) البيع (إن بريء) فيه البائع (من كل عيب) أي إن باع بشرط البراءة من كل عيب، وليس للمشتري أن يرده بعيب (وإن لم يعدها) أي العيوب

قال العلامة علاء الدين الحصكفي المتوفى:١٠٨٨هق

(وصح البيع بشرط البراءة من كل عيب وإن لم يسم) خلافا للشافعي؛ لأن البراءة عن الحقوق المجهولة لا يصح عنده، ويصح عندنا لعدم إفضائه الى المنازعة (ويدخل فيه الموجود والحادث) بعد العقد (قبل القبض فلا يرد بعيب).

قال العلامة محمد امين بن عابدين (المتوفى: ١٢٥٢هـ)

(قوله وصح البيع بشرط البراءة من كل عيب) بأن قال بعتك هذا العبد على أني بريء من كل عيب ووقع في العيني لفظ فيه وهو سـهو لما يأتي نهر. قلت: ولا خصوصية لهذا اللفظ، بل مثله كل ما يؤدي معناه. مطلب باعه على أنه كوم تراب او حراق على الزناد او حاضر حلال ومنه ما تعورف في زماننا فيما إذا باع دارا مثلا فيقول بعتك هذه الدار على أنها كوم تراب، وفي بيع الدابة يقول مكسـرة محطمة، وفي نحو الثوب يقول حراق على الزناد ويريدون بذلك أنه مشتمل على جميع العيوب فإذا رضيه المشتري لا خيار له؛ لأنه قبله بكل عيب يظهر فيه، وكذلك قوله بعته على أنه حاضر حلال ويراد بيع هذا الحاضر بما فيه أي عيب كان سوى عيب الاستحقاق: أي لو ظهر غير حلال أي مسروقا او مغصوبا يرجع عليه المشتري فهذا كله بمعنى البراءة من كل عيب، ونظيره ما في البحر: لو قبل الثوب بعيوبه يبرأ من الحروق وتدخل الرقع والرفو. اهـ أي لو كان فيه خرق لا يرده، وكذا لو وجده مرقوعا او مرفوا، وهو من باب رفوت الثوب رفوا من باب قتل: أي أصلحته ثم رأيت بعض المحشين ذكر أن العلامة إبراهيم البيري سئل عمن باع أمة وقال

أبيعك الحاضر المنظور يريد بذلك جميع العيوب: فأجاب ليس للمشتري رد الأمة التي أبرأه عن عيوبها. اهـ ملخصا (قوله وإن لم يسم) أي لم يذكر أسماء العيوب.

رد المحتار:٤/ ٢٢١) [مطلب في البيع بشرط البراءة من كل عيب]

فی الفتاوى الهندية:٣/ ٩٤ [الفصل الخامس في البراءة من العيوب والضمان عنها]

البيع بـالبراءة من العيوب جـائز في الحيوان وغيره ويدخل في البراءة ما علمه البائع وما لم يعلمه وما وقف عليه المشتري وما لم يقف عليه وهو قول أصحابنا رحمهم الله تعالى سواء سمى جنس العيوب او لم يسم أشار اليه او لم يشر، ويبرأ عن كل عيب موجود به وقت البيع وما يحدث بعده إلى وقت التسليم في قول أبي حنيفة وأبي يوسف - رحمهما الله تعالى.

وفي درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (١/ ٣٤٨)

[(المادة ٣٤٢) إذا باع مالا على أنه بريء من كل عيب ظهر فيه]

(المادة ٣٤٢) إذا باع مالا على أنه بريء من كل عيب ظهر فيه لا يبقى للمشـتري خيار عيب. ليس للمشتري خيار العيب سواء أكان العيب موجودا أثناء البيع أم حدث بعده قبل التسليم وسواء أكان المبيع حيوانا أم غير حيوان لأن هذا الإبراء إسـقاط والإسقاط تمليك وإن كان لا يحتاج إلى تسلم وتسليم لأن الجهالة فيه تدعو إلى النزاع ولا توجب فساد العقد (درر) انظر المواد ٥١ و ٨٣ و ١٥٦٢.

مثلا إذا قال البائع للمشـتري حين إجراء البيع قد بعتك بغلتي هذه بألف قرش على أن أكون بريئا من دعوى العيب او قال ذلك القول او ما يفيده رجل آخر فاشتراها المشتري على هذا الشرط فالبيع صحيح انظر شرح المادة ١٨٨ سواء كان المتبايعان يعلمان بالعيوب التي في البغلة او لا وسواء أشير في الإبراء إلى تلك العيوب او لا ويدخل في الإبراء حسب هذه المادة العيوب الموجودة حين العقد فقط وعند أبي

يوسف تدخل العيوب التي تحدث بعد البيع وقبل القبض فيبرأ البائع من الجميع فلا يدعي عليه بأية دعوى عيب (شرنبلالي) انظر المادة ۱۵۹۲.

ايجاب، قبول، قبض او تسليم راغلی دي خالي دمبيعې قيمت نه دی معلوم؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

يو سړي وبل سړي ته مال وروړل ورته وويل چې دغه مال زه خرڅوم ته يې را نيسي هغه ورته وويل هو د ورته وويل چې درته وېتلم هو وروې تلی او ورتسليم يې کړی ،خو د مال قيمت (ريټ) يې نه دی معلوم کړی چې په څو دي اوس دغه مال په مشتري په لاس ورک سو.

او دغه سي عمل په دغه ښار کې بيعه نه بولې بلکه دا د بيعې وعده بولي.

نو پوښتنه داده: چې د دغه ورک سوي مال تاوان پرچا راځي يعنې: پر خرڅونکي او که پر اخيستونکي؟ بينوا تؤجروا!

المستفتي: محمد رحيم

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً و مصلياً وبعد: محترم مستفتي صاحب د دغه مسئلې دوه صورته دي.

اول: د دغه دواړو کسانو په مابين کې بيعه پوره سوې ده يعنې: ايجاب، قبول، قبض او تسليم راغلي دي خالي دمبيعې قيمت نه دي معلوم سوی، نو په هر هغه بيعه کې چې دمبيعې قيمت معلوم نه سي بيعه فاسده ګرځي، او په بيعه فاسده کې که مبيعه د مشتري (اخيستونکي) پر لاس هلاک سي ضمان (تاوان) يې پر مشتري (اخيستونکي) باندې دی.

تنبيه: په دغه تاوان كې به يا د دغه شي قېمت وركوي كه دغه شى قېمتي و اويا به د دغه شي مثل وركوي كه دغه شى مثلي و .

وفي درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (١/ ٢١٧) (المادة ٢٣٧)

تسمية الثمن حين البيع لازمة فلو باع بدون تسمية ثمن كان البيع فاسدا.

يجب حين البيع ذكر الثمن وتسميته فإذا كان مسكوتا عنه حين البيع فالبيع فاسد وليس بباطل؛ لأن البيع المطلق يقتضي المعاوضة فإذا سكت البائع عن الثمن كان مقصده أخذ قيمة المبيع فكأنه يقول بعت مالي بقيمته والاقتصار على ذكر القيمة مجملة يجعل الثمن مجهولا فيكون البيع فاسدا لا باطلا.

وفي درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (١/ ٢٥٢)(المادة ٢٦٤)

متى حصل تسليم المبيع صار المشتري قابضا له إذا تسلم المشتري المبيع حسب الأصول المبينة في المادة السابقة والمواد التالية يكون ذلك في حكم قبض المشتري للمبيع شرعا. ولا يتوقف تحقق القبض الشرعي على قبض المشتري للمبيع بالفعل كما هو معنى لفظ القبض لغة.

قال العلامة علاء الدين الحصكفي المتوفى:١٠٨٨هق

(وفسد) بيع (ما سكت) أي وقع السكوت (فيه عن الثمن) كبيعه بقيمته.

قال العلامة محمد امين بن عابدين (المتوفى: ١٢٥٢هـ)

(قوله ما سكت فيه عن الثمن) ؛ لأن مطلق البيع يقتضي المعاوضة فإذا سكت كان غرضه القيمة فكأنه باع بقيمته فيفسد ولا يبطل درر: أي بخلاف ما إذا صرح بنفي الثمن كما قدمه قريبا.

رد المحتار) (٧/ ٢٤٧). [مطلب في البيع الفاسد].

وفي بدائع الصنائع (٥/ ٢٤١)

فاما إذا هلك بعض المبيع بعد القبض، فإن هلك بآفة سماوية او بفعل المبيع او بفعل المشتري؛ فالهلاك على المشتري؛ لأن المبيع خرج عن ضمان البائع بقبض المشتري، فتقرر عليه الثمن، وكذا إذا هلك بفعل أجنبي فالهلاك على المشتري لما قلنا.

وفي فتح القدير: (٦/ ٢٩٦).

وإن كان الخيار للبائع او كان البيع فاسدا لزمه ضمان مثله إن كان مثليا او قيمته إن كان قيميا.

وفي (رد المحتار) (٤/ ٥٦٠)

وفي الفتح والدر المنتقى: لو هلك المبيع بفعل البائع او بفعل المبيع او بأمر سماوي، بطل البيع ويرجع بالثمن لو مقبوضا وإن هلك بفعل المشتري، فعليه ثمنه إن كان البيع مطلقا او بشرط الخيار له، وإن كان الخيار للبائع او كان البيع فاسدا لزمه ضمان مثله إن كان مثليا وقيمته إن كان قيميا.

وفي مرشد الحيران الى معرفة أحوال الإنسان (ص: ٥٩) (مادة ٣٦٧)

إذا هلك المبيع بعد القبض بفعل المشـتري فعليه ثمنه إن كان البيع مطلقاً او بشـرط الخيار له وإن كان الخيار للبائع او كان البيع فاسداً لزمه ضمان مثله إن كان مثلياً او قيمته إن كان قيميا.

وفي الموسوعة الفقهية الكويتية (١٣/ ٢٧٦)

وفي الفقه الإسلامى وأدلته:(٥/ ٣٣٧٩)د ـ إذا هلك بعض المبيع بعد القبض.

دويم: كه واقعي هم دغه سـي عمل په دغه ښـار كې بيعه نه بولې بلكه دا دبيعې وعده بولي، (خو ما عاجزه بنده خپل تحقيق وكړى دوى دغه بيعه بولي) نوبيا دوى په مابين

کې بیعه نه ده سوی یعنې: بیعه نه ده پوره سوې بلکه داد بیعې وعده ده اودغه مال ددغه کس په لاس کې امانت پروت دی اوپه امانت کې بغیره دتعدي او نقصان او نقصیر دامین شخه پر امین باندې ضمان نسته .

وفي غمز عيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر (١/ ٢٩٥)

[القاعدة السادسة العادة محكمة]

قوله: العادة محكمة: اعلم أن مادة العبادة تقتضي تكرار الشيء، وعوده تكرارا كثيرا يخرج عن كونه واقعا بطريق الاتفاق، ولذلك كان خرق العوائد عندهم لا يجوز الا في معجزة النبي او كرامة الولي

وفي درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (١/ ٤٤)(المادة ٣٦).العادة محكمة.

يعني أن العادة عامة كانت او خاصة تجعل حكما لإثبات حكم شرعي. .. ومعنى محكمة أي هي المرجع عند النزاع؛ لأنها دليل يبنى عليه الحكم، وهي مأخوذة من الحديث الشريف القائل «ما رآه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن».

لماقال العلامة علي حيدر خواجه امين أفندي (المتوفى: ١٣٥٣هـ)

الامانة غير مضمونة. يعني على تقدير هلاكها او ضياعها بدون صنع الامين وتقصيره ولا يلزم الضمان.

... يعني إذا هلكت الامانة او فقدت او طرأ نقصان على قيمتها في يد الامين بدون صنعه وتعديه وتقصيره في الحفظ لا يلزم الضمان على الامين المذكور. سواء أهلكت بسبب ممكن التحرز منه كالسرقة أم بسبب غير ممكن التحرز منه كالحريق الغالب. وسواء أهلك مال الامين مع الامانة المذكورة أم لم يهلك وسواء أشرط الضمان أم لم يشرط راجع شرح المادة (٨٣) . ولهذا السبب كانت الامانة اسما للمال غير المضمون ويقال مثلا للوديعة في المادة (٧٧٧) امانة في يد المستودع أي أنها غير مضمونة.

(درر الحكام في شرح مجلة الأحكام: ۱/ ۲۳۵) (المادة ۷٦۸)

احتکار په کوموشیانو کې راځي او په کوموشیانو کې نه راځي؟

﴿الاستفتاء:﴾ څه وايې علماء کرام پدغه لاندې مسئله کې چې:

احتکار په کوموشیانو کې راځي او په کوموشیانو کې نه راځي؟ مثلا : دانسان په ضروري خوراکي شیانوکې لکه :غنم ، جواري ، په بعضې علاقوکې. ؟ اوکه په غیر ضروري شیانوکې هم احتکار متحققه کېږي لکه :بوره ، ګوړه ،لوبیا وریجي ، دال، نخود ، غوړي اوداسې نور. :

۲ : دحیواناتو په کوموخوراکې توکو کې احتکار راځي او په کوموکې نه راځي؟

۳ : هغه شیان چې دخارج ځخه راځي په خپل مملکت کې ذخېره کول اودخپل مملکت شیان ذخېره کول څه فرق سره لري که نه ؟

او په خپل هېواد کې دیوه ولایت څخه بل ولایت ته وړل اوذخېره کول څه حکم لري ؟ اودیوه ولایت دیوې ولسوالي څخه بلې ولسوالي ته وړل اوهلته بیا ذخېره کول څه حکم لري ؟ اودبوه ښارشیان پداغه ښارکې ذخېره کول اود ولسوالي شیان پداغه ولسوالي کې ذخېره کول څه حکم لري ؟ **بینوا تؤجروا !**

الجواب وبالله التوفیق

واضحه دې وي چې دفقهاء کرامو دعباراتو او تصریحاتو په رڼاکې ویلای سو چې شرعا ممنوع اومحضورا احتکار عندالطرفین(کوم چې مفتی به قول دی)هغه دی . کوم چې دانسانانو اوحیواناتو په اړین خوراکي توکوکې وي، خو ددې احتکارد متحققه کېدو لپاره شرط دادی چې دا به په وخت کې دتنګي اړتیاوي ، او په کوچني ښاروکې به وي ، لکه زموږ بولدک اودې ورته کوچني ښارونه او په طریقه سره به دشراء وي، نو په وخت کې

دیسـرا او د پرمختیا که څه هم په کوچني ښـارکې وي په مذکوره اړین خوراکې توکوکې احتکار نه راځي په غټوښـاروکې لکه کابل، کراچي ، او داسې نور غټ ښـارونه دکوم چې مرافق زیـات اونفوس یې ډېر وي هلتـه احتکـارنـه متحققـه کېږي کـه څـه هم پـه وخت کې دضیق اوتنګي وي اوهمداسې کوم څه چې رانېول سوي نه وي په هغه کې احتکارنه راځي نو دخپلې ځمکي په غله کې احتکار نه راځي.

لاندې عبارت دې ملاحظه وي : لمافی الدارمع الرد :

وکرهالاحتکار قوت البشرکتین وعنب ولوزوالبها ئم کتبن وفت فی بلد یضرباهله، وفی الشامیته تحته:

وشـرعا اشتراء طعام ونحوه وحبسه الی الغلاء اربعین یوما، والنقییدبقوتالبشرقول ابی حنیفته ومحمد رح وعلیه الفتوي ـ ویکره الاحتکار فی اقوات الادمیین والبهائم اذاکان ذلک فی بلد یضرالاحتکارباهله، وقال العلامته.

العینی رح تحته:وابوحنیفته اعتبرالضررالمعهود المتعارف غالبابین الناس، وذکرفیالکافی محمد مع ابی حنیفته رح وقال وعلیه الفتوي الخ.

وفی تکملة فتح المهلم ج ا/ ۴۱۰).

الثالـث: ان یضـیث علی الناس بشـرائه ولایحصل ذلک الابامرین، احدهما: یکون فی بلد یضیق باهله الاحتکار کالحرمین والثغور،وان البلاد والواسـعة الکثیرة المرافق والجلب کبغداد والبصـرة والمصـر لایحرم فیها الاحتکار،لان ذلک لایآثر فیها غالبا الثانی: ان یکون فی حال الضــیق بآن یدخل البلد قافلة فیتبادر ذو الاموال فیشترونها ویضیقون علی الناس فاما ان اشتراه فی حال الاتساع والرخص علی وجه لایضیق علی احد فلیس بمحرم الخ

اوس داچې دکومو خوراکې توکو ذخیره کول په احتکار کې راځي او کوم نه راځي فقهاء کرامو زما دقاصر فکرپه اند هیچ چیري داسې لیست اونوم ندی ذکرکړی، په کوم کې چې دټولوشیانو تذکره سوې وي چې دا اشیاء محتکره دي اودا نه دي البته په کوموشیانوکې چې احتکار متحققه کیږي دهغوشیانو لپاره یو اساسي تعریف کوي دتعریف وروسته یوڅوشیانو په ډول سره دمثال ذکرکوي، لکه :مجمع الانهرغنم یادکړي دي ، درالمنتقي جواري اوانځرهم یاد کړی دی حاشیة الطحطاوي غنم ، اوربشې او خرمایاد کړې ده، الدرمع الرد انګور اوبادام هم یادکړی دی، اوالمسبوک شرح تحفة الملوک چهولې او دال هم یادکړې دي نواړین ده چې لومړی دفقهاءکراموهغه تعریف رانقل کړو، او بیاهغه تعریف ته په کتلو سره هغه اړین خوراکې توکي پېژندلای سو، چې په کوموکې احتکارراځي اوپه کوموکې نه راځي؟علامة شامی رح لیکي:

وکره احتکارقوت البشر کتبن وعنب ولوز والبهائم کتبن وقت.

(الدر المختارج ۹\۲۵۶)

اومجمع الانهر هم داسې لیکي چې مکروه احتکار په قوت کې دانسانانو لکه غنم اوداسې نور اوپه قوت کې دبهائمو لکه وربشې، پروړه اوداسې نور نولومړی دقوت پېژندل اړین دي ، دکوم په واسطه سره دهغه څه پېژندل بیا اسانه دی، چې په کوموشیانوکې احتکار راځي اوپه کوموکې نه راځي؟ فقهاء دقوت تعریف داسې کوي چې هغه خوراکې توکي کوم چې په ډول سره دغذا دائم خوړل کېدلای سي ، اوسړی په مړېږي اودحیات بقاء پرهغه باندې وي، اوفقهاء کرام یې هم په دغه معنی سره استعمالوي، البته غذا عامه ده کوم چې قوت، بادام، مېوه اوتداوي ټولوته شامله ده .

الموسوعة الکویتیة ج۱۳\۴۴) لیکي:

الاقتيات لغة: مصدراقتات واقتات، اكل القوت، والقوت مايوكل ليمسك الرمق، كالقمح والارز

والاشياء المقتاتة: هى التى تصلح ان تكون قوتا تغذى به الاجسام على الدوام بخلاف مايكون قواما

للاجسام لاعلى الدوام، ويستعمل الاقتيات عندالفقهاء بالمعنى اللغوي... والاغذية اعم من القوت

فانها قديتنا ولها الانسان تقوتا اوتادما اوتفكها اوتد اويا.

اوپه معجم اللغتة الفقهاء ص ۳۷۲ کې بيادا سې تعريف کوي.

القوت بالضم ج اقوات، مابه قوام البدن من الطعام.

اوعلامة عيني رح يې بيا داسې تعريف کوي:

دقوت دمذکوره تعريفاتو په کتلو سره ويلای سو چې هرهغه خوراکې توکي په قوت کې شمېرل کېږي چې دهغه په خوراک سره انسان مړېږي اوکه بل څه نه وي صرف داغه شی وي بيا هم انسان ژوند په کولای سي، مثلا: که يوچاته بل هيڅ څه نه ورکول سي، صرف بادام ورکول سي نو ايا داکس په بادامو سره مړېږي اوژوند په کولای سي؟ جواب به وو ايو: چې، هو: په بادامو سره انسان هم مړېږي، اوهم صرف په بادامو ژوند کولاسي، نو دا بادام قوت دی، بل اړخ ته که چېري يوچاته صرف غوړي، عسل، يابوره ورکول کېږي بل څه نه وي نو اياصرف په بوره سره انسان مړېږي، ياصرف په بوره باندې ژوند کولای سي، ؟ نوجواب به وو ايو: چې، يا: په بوره سره نه انسان مړېږي اونه صرف په بوره سره ژوند کولای سي، نوبوره اودې ته ورته شيان په قوت کې نه دی داخل نو ددې تعريف په رڼاکې هرهغه څه مالومېدلای سي، چې کوم خوراکې توکي قوت دی اوکوم ندی، نوددې تعريف په رڼاکې په يوه وخت کې په يوښارکې په ډېروشيانوکې احتکارمتحققه کېدلای سي، البته هغه شيان چې اهل بلد ورسره معتاد وي او داشی په داغه ښارکې متعارف وي که څه هم ددې اړوند صريح ټکې خو په نظرندي راغلي ليکن دعباراتو څخه ضمنا داسې

معلومېږي، مثلا امام محمد رح وريجي په قوت كې ندي داخل كړي حال دا چې صرف په وريجوسره انسان هم مړېږي او هم صرف په وريجوسره ژوند كولاى سي، خو وروستنيو فقهاء بيا داوضاحت كوي چې هغه سېمې لكه طبرستان چېري چې وريجي خلك عامه استعمالوي هلته په قوت كې داخل دي او احتكار پكښې متحققه كېږي .

لمافى التبيين ج ۲\۲۷)

واماقول محمد: ان حبس الارزليس باحتكار فهومحمول على البلادالتى لايتقوتون به وامافى الموضع الذى هوقوتهم مثل طبرستان فهواحتكارالخ-

اوعلامة سمرقندى رح عيون المسائل ص ۱۴۵ كي ليكي:

واماالثمران كان فى بلدهومن طعامهم فهوحكرة الخ

نو ويلاى سو چې په يوښاركې په يوه وخت كې دې پروشيانو احتكار متحققه كېدلاى سي، مثلا ، زموږ په بولدك كې دا چې د غنمو سره ، وريجوسره ، چهولو اودې ته ورته شيانوسره خلك معتاددې ، نو ځكه ددې هرشي ذخېره كول په احتكارمحظور كې راځي لېكن دا چې خورما كه څه هم دقوت په شيانوكې داخل ده ، لكېن دا چې اهل بولدك دومره ورسره معتادندي نو ذخېره به يې احتكار نه وي . والله علم

د وروستي تفصيلي پوښتني جواب د علامه زيلعي رح د تبيين الحقايق د لاندني عبارت څخه ترلاسه كېدلاى سي، ونصه :

وقال محمد:ان نقله من موضع يجلب منه الى المصر فى الغالب يكره حبسه ، لان حق العامة تعلق به، لانه بمنزلة فنآء المصر،الاترى انه كان ينقل لولم يآخذه هو بخلاف مااذا نقله من بلد بعيد لم تسجر العادة بالحمل منه الى المصر،لانه لم يتعلق به حقهم ،الاترى انه لولم ياخذه لم ينقل اليهم فصار كعلته ضيعته

(تبیین الحقائق ج ۲\۲۸)

په دې اړوند د شیخینو رحمهم الله د اقوالو او د اختلافاتو څخه په قدم پورته کولو صرف هغه مفتی به قول کوم چې د امام محمد رح دی هغه رانقلوو چې د داسې ځای (هغه که دښار فناوي ، که دولسوالي وي اوکه یوخارج هېواد وي) څخه دقوت لاانسان والبهائم خوراکې توکي راوړل، دکوم ځای څخه چې یې عادتا خلک را وړي که یې زید نه راوړي، بکریې راوړي که یې بکر رانه وړي ، خالد یې راوړي نو په دغه سې شیانوکې داهل بلد حق متحققه دی ، نوځکه ذخیره یې احتکار ممنوع بلل کېږي اوکه چېري د داسې ځای څخه راوړل کېږي که یې یوه نه راوړي، بل یې بیا نه راوړي او ونه یې هریو دراوړلو توان لري اوراوړل یې دهرچا دوس کار نه وي نوبیا په هغه راوړل سوي څه کې ،احتکار نه محققه کېږي .

لمافی الفقه الاسلامی وادلته ج ۳\۵۸۴)

ولایکون محتکرابحبس غلةارضه بلاخلاف، لانه خالص حقه ولاما جلبه من بلد آخر، لان حق الناس بالموجود فی البلد،والمختار عندالحنفیة قول محمد وهو ان کان یجلب منه عادتا کره تحریما حبسه ،لان حق الناس تعلق به –

وفی ددرالحکام شرح غررالاحکام ج ۱ ۳۲۲).

کذافی التبیین وکذافی الهدایة موخراقول محمد بدلیله–

وفی عیون المسائل للسمرقندی ص ۱۴۵

ورود ابن سماعة عن محمد رح قال: الکرة ان یشتری من السوق اومن قری ذلک المصرالذی یجلب منها الی المصرالخ.

او ددې جزء جواب، چې دخپل ښار څخه بل ولایت ته وړل، او هلته ذخیره کول ایا په احتکار محظور کې راځي که نه؟ دمحیط لاندې عبارتو څخه دا سې معلومیږي چې باک نه لري . ونصه:

والثالث: ان یشتری طعاما فی مصروجلبه الی مصر آخر واحتکرفیه ، فانه لایکره لقوله علیه السلام:

الجالب مرزوق والمحتکرملعون، ولان حق اهل المصرلایتعلق بطعام مصر آخر الخ–

اړین وضاحت: عصري فتاوی وو دامام ابویوسف رح قول ته ترجیح ورکړي، چې هغه خوراکې شیان چې خلکو ته ضرر رسوي احتکاري دی .

دکوچنیانو دبازي شیان خرڅول څه حکم لري؟

﴿الاستفتاء:﴾ څه فرمایې علماء کرام:

دکوچنیانودبازي شیان خرڅول مثلا مردکې او جعلي پیسې جائز دی که نه؟بینوا تؤجروا !

مستفتي : دانش جان

